محمد حسن کاکړ ۲۰۱۶/۰۸/۱۸

# جان ستوارټ مل
# په نوي دقیقو کې

## د آزادۍ فلسفه، تجربي فلسفه،
## د ګټورتوب فلسفه

دریمه برخه





لیکونکی: پال ستراترن

ژباړن: محمد حسن کاکړ

"د خورا ډېرو خورا ډېره نېکمرغي ده چې د خیر او شر معیار دی"

*"It is the greatest happiness of the greatest number that is the measure of right and wrong"*

*"د ګټورتوب فلسفې" سپېڅلئ رښتین توب"*

جان ستوارټ مل (*John Stuart Mill*) د خېر رسولو یا ګټورتوب فلسفې (*utilitarianism*) ستر مفسر ګڼل کیږي، خو هغه دغه فلسفه نه ده ایستلې; حتی د هغې د ډېر پراخ نفوذ نوښت یې هم نه دئ کړئ. دا د غیرعادي نومیالي جیریمي بینتهام (*Jeremy Bentham*) کار وو.

جان ستوارټ مِل د ژوند په وروستیو کلونو کې د بنتهام یو دقیق انځور کښلئ: *" هغه نه دننی تجربه لرله نه باندنۍ. هغه نه شتمنۍ او نه دښمنۍ پېژندله، نه قوي جذبه نه په مړه ګېډه مړښت . هغه حتی هغه تجربه نه لرله*



ارسال مقالات:
info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

*چي د ناروغی له امله وي. هغه له ماشومتیا نه تر پنځه اتیا کلنی پوري د هلک توب په روغتیا کي ژوند کړی.*
*هغه نه خپګان، نه د زړه دروندتوب احساس کړئ دئ. هغه تر پایه پوري*
*هلک پاتي شوئ وو."*



*جِرَمی بنتهام*

د بنتهام کورنی هغه ته کافي شتمني پري ایښي وه، چي بی له کارکولو نه ژوند وکړي: هغه د بخت له دغه نعمت نه بېساري ګټه اوچته کړه. خپل ټول ژوند یي فکر کولو ته ځانګړئ کړ، خو دده ټول تفکر د فلسفي او نظري مسئلو په اړه نه وو. د وړاندي تلونکي ګټي رسولو ایډیال چي هغه وړاندي کړ، دده په ټول سوچ نفوذ وکړ. بنتهام په ټولو ساحو کي پر مختګ غوښت. له سیاست نه تر محبس، له فلسفي نه تر یخ شویو نخودو پوري. د هغه ډېره نامتو عملي پروژه ، د پان اپتیکان *(Pan Optican)* یا ټول لیدونکئ په نامه د یو څرخ په شان د بندي خاني په اړه یو نوئ انقلابي تجویز و ، چي په باندي خوا کي یي حجري او په محور کي یي د چلوونکي یا امر برج تجویز شوئ وو. دغه ټول لید برج *(pan optic)* د محبس امر بی له دي چي پخپله ورته ورشي په دي قادر کاوه چي د ټولو کوټو څارنه وکړي،. خو دا د دغه اثرناک محبس د مؤسس یوازنی ابتکاري خاصه نه وه. بتهام وړاندیز وکړ چي د ده دغه محبس دي د ګټي کوونکي معاملي په شان وي، په دغه ډول چي هغه به خپل لګښت پخپله پوره کوي، او هغه سخت کارونه چي بندیان یي کوي *" ډېر بېلاري به پر لار برابر کي."* دغه پروژه به په انسان پالي هم واوړي، ځکه چي چلوونکئ به یي بندیانو ته ښه خواړه ورکولي وشي، او روغتیایي حالت به یي ښه و ساتل شي، او بندیان به چي



*پان اوپتیکن محبس*

خومره ډېر کار وکړي، هغومره ډېري پیسي به وګټي. بنتهام په دغي پروژې کي دومره ډوب شو، چي په داسي حال کي چي کوښښ یي کاوه حکومت و هڅوي هغه عملي کړي، دغومره ډېر لګښتونه وکړل چي مفلس شو او نژدي وو چي بندي شي. د افلاس له قوانینو سره د هغه اشنایي ( چي لاهم د اته خلویښتو ساعتونو لپاره یو ډول کړول کېدل او د غوړو پري کېدل پکي وو) یو عبرتناک درد وو.

د بنتهام نور عملي تجویزونه د تلیفون له پخواني حال ( چي د مخابري، تیوبونو له شبکي نه کار اخیستل کېده.) تر هغي پروژې پوري رسېده، چي د اطلس سمندر د پانامه ترانګی له لیاری آرام سمندر ته یوه کانال سره ورمبنلوي. د ده بله پروژه د ترکاري سړول وه، چي په ژمي کی د عیسوي اختر په ورځو کي نخود و خوړل شي. نوري پروژې یي د قانون اصلاح، د مستعمرو خپلواکي، د برتانیي داساسي قانون تسوید، د لندن پوهنتون تاسیس، او په پای کي د افلاس د پوره اړولو په هکله وي.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com



جیمز مل
د جان ستوارټ مل پلار

بنتهام د خپل ژوند ډېره برخه په دې کې تېره کړه چې حکومتي لویان خپلو پروژو ته متوجه کړي، خو ده پخپله دغه کار نه کاوه. دی یو محجوب شخص وو، او غوره یې ګڼله چې ګوښه ژوند وکړي او خپل وخت خپلو پروژو او نظریو ته ځانګړئ کړي، او یوازې له خپلو اخلاصمنو دوستانو او پلویانو سره لیدل کتل وکړي. ددوی په ډله کې جېمز مل (James Mill) د جان ستوارټ مل پلار شامل وو. دغه کسان د فلسفي افراطیانو (Philosophical radicals) په نامه یادېدل، او دوی د بنتهام تجویزونه عام کول. د هغه د نظریو پلویتوب په خاص ډول په پارلمان کې پراخ اثر وکړ، چې هلته د هغه د متحدانو په ډله کې ډېوېډ ریکارډو (David Ricardo) وو، چې د خپل وخت لوی اقتصاد پوه ګڼل کېدئ.



دیود ریکاردو

حتی رسمي مقامونو ته د بنتهام پرله پسې فشار اچوونکي لیکني (کله کله نابېره) د لویو اصلاحاتو لامل کېدلې. د انګلستان بانک له ګورنر سره د نه جعل کېدونکو بانکنوټونو په اړه، چې ده تازه پرې فکر کړئ وو، په مراوده کې، هغه وپوښته چې په څه شمېر بانکنوټونه په جریان کې دي. د بانک ګورنر درک کړه چې دی یې په اړه معلومات نه لري. په بانک کې بل څوک هم پرې نه پوهېده. بانک، د دې لپاره چې د پیسو د جریان د کنټرول ادعا کولی وشي، درک کړه چې مالومه کړي دغه نامالوم شمېر څومره په دوران کې دئ. په دغه ډول جرمي بنتهام په بانکنوټونو باندې د شمېر لیکني او هم د لومړي مالي سیاست د مسئولیت ادعا کولی شي.

بیا هم بنتهام د یوه ځلاند سودایي څخه ډېر لیرې وو. د هغه ټول څو اړخیز تجویزونه او پروژې د یوه مرکزي پرنسیب له مخې وې، چې هغه د ګټې رسولو ایدیا (Utilitarian idea) پر اساس ولاړې وې، چې "*طبیعت بشر د دوو خپلواکو باداړانو - درد او خوښي- تر حاکمیت لاندې کړئ دئ. یوازې دننه په دوی کې ده چې ووېل شي، موږ باید څه وکړو، لکه مسي چې موږ څه کوو.*" په هغه وخت کې دغسې یو ځلانده او انسان پاله مفکوره افراطي ګڼله کېدله. دغه واقعیت چې اوس موږ ته څرګند ښکاري، تر زیاتي اندازې د بنتهام، جیمز مل او د هغه د زوی، جان ستوارټ مل، او د هغو د ګټورتوب فلسفي د ملګرو د برکته ده. هغه څه چې موږ یې نن ورځ مسلم ګڼو، د تاریخ په بهیر کې په ډېرو ټولنو کې دغسې نه ګڼل کېدله او، له یو څو نه پرته، په ډېرو ټولنو کې اوس هم همدغسې پاتې ده. د بنتهام د ګټې رسولو د ایډیال نتایج په نېغه توګه په ډموکراتیک لبرلزم واوښت، چې د لویدیز په آزادو ټولنو کې نفوذ کوي.

د بنتهام د "*ګټورتوب*" فلسفه پر هغه څه ولاړه ده چې هغه "*سپېڅلئ رښتینتوب*" باله. ددغه "رښتین توب" ادعا داده چې "*د خورا ډېرو خورا ډېره نېکمرغي ده چې د خیر او شر معیارډئ.*" د هغه مقصد دا وو چې فلسفه او ورسره د اجتماعي پوهو پرنسیپونه د طبیعي ساینسونو په شان دقیق کړي. هغه د ګټورتوب فلسفي او د هغې د نیکمرغی پرنسیب د اخلاقیاتو د نوي جاذبي قوت په شان وپېژنده. هغه په داډه زړه هیله کوله چې د هغې په پای کې به دی یوه ورځ د ټولنیزو پوهو او فلسفي، نیوټن په شان و پېژندل شی. د هغه اساسي دلیل د "*ګټې رسولو پر پرنسیب*" بنا دئ، چې هغه د اخلاقي پرنسیپ په شان ورته کتل. کوم څه چې د خوښئ لامل کیږي، ښه او هغه چې د درد لامل کیږي بد دئ. خو د دې لپاره چې دغه پرنسیپ اخلاقي وي حتمي ده چې د ټولني له نظره


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ورته و کتل شي. کوم هغه چي پر حق وي، د هر يوه نېکمرغي اعظمي حد ته رسوي، او هغه چي غلط وي د ډېر درد او رنځ لامل کيږي. مونږ چي هرکله له سختو فيصلو سره مخ کيږو، حتمي ده چي دغه نېکمرغي له سوچه درد سره اندازه کړو.

دا مونږ د "*گټورتوب*" فلسفي له مشکل سره مخ کوي. څنگه ممکنه ده چي مونږ په فردي يا د ټولني په سطح کي، خوښي اندازه وکولای وشو؟ بنتهام د خوښی د دقيقي اندازه کولو دغه ستونزه د "*نېکمرغی محاسبې*" (*felicific calculus*) سره په تفصيل هواره کړه. ده په خپل تحليل کي د خوښی اوه بېل بُعدونه په لست کي ونيول، په شمول د هغه د دوام او د فردونو په شمېر سره چي په هغه سره متاثر کېږي. هغه داسي هم د شخص خوښي څلور بېل ډولونه په لست کي ونيول چي هغه له قدرت، شتمنی، مهارت، ښه نوم او په پای کي هم لږ تر لږه بد نيتي (*malevolence*). داسي هم هغه يو درجن " *ساده دردونه*" و شمېرل، چي په هيله کي له ناهيلی څخه پيدا کيږي ( دا هغه کټگوري ده چي موږ ټول مَسوکِستان (*masochists*) کوي. [هغوی چي له زورېدلو او سپک کېدلو څخه خوند اخلي] خو څرگند حقيقت دادئ چي خوښي، فردي وي يا ډله ايزه، په کمي لحاظ اندازه کېدلی نه شي. داسي ټاکلئ معيار نشته چي د يوي انگېزي يا محرکي(*stimulus*) شدت به په عام ډول له هغه نه راپيدا خوند ته مربوط کېدلی وشي. يو هندی فقير ممکن له ترخي قورمي يا د اغزيو له توشکي نه خوند واخلي، په داسي حال کي چي هغه به يوه دنمارکي ته د زغملو وړ نه وي.

بنتهام له جېمزمل سره له نژدې څخه کار وکړ او دهغه له زوی جان مل سره يې د زړه مينه وښووله. دواړو ډېر زر ستواړت مل د بنتهام وارث وليد، هغه ايډيالي انتخاب چي د بنتهام د ايډياگانو څراغ به بل نسل ته ورسوي.

بنتهام د ۱۸۳۲ کال د جون په ۱۶مه مړ شو، دوې ورځي وروسته له هغه چي د اصلاح لايحه (*Reform Bill*) په پارلمان کي و منله شي، د کومي لپاره چي هغه ډېري هڅي کړي وې. دغي لايحي د برتانيي سياسي څېرې ته تغير ورکړ، په دې چي د رايي ورکولو حق يې دومره پراخ کړ چي د ښارونو هغه لوی مرکزونه يې په نظر




کي ونيول چي د صناعتي انقلاب له امله پرسېدلي وو. بيا هم دا هغه ډموکراسي نه وه چي موږ يې پېژنو؛ د ښکته منځنی طبقي، او د کارگر طبقي ټول له رايي ورکولو نه بې برخي وې. سره له دې هم هغه په برتانيي کي د عامه ډموکراسي شروع وگڼل شوه، چي په يوه پېړی کي يې تحقق وموند.

د بنتهام د مرگ هره برخه هغسي غېرعادي وه، لکه ژوند چي يې وو. د هغه په "عصري علمي" وصيت کي ويل شوي وه چي، د جنازې په وخت کي دي د هغه تن د ويرجنو دوستانو په مخ کي ټوټه ټوټه شي او بيا يې هډوکي موميايي شي، په داسي حال کي چي د هغه د خوښی په دريشي کي د چکر وهلو په کاليو، او د وښو په شاپو کي دي، په ښيښه اي صندوق کي ننداري ته کېښوول شي. ده چي هغه اتوايکان (*auto icon*) [پخپله جوړ شوئ تصوير] و گڼه تر بلي هري مجسمي څخه يې ډېر دقيق او مناسب يادگار وباله. دغه غول گوني (*goulish*) څېره چي د هغه له


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

وصیت سره سم درول شوې وه اوس په لندن کې د پوهنتون کالج کې په ښیښه اې صندوق کې لیدل کیږي، چې ده د هغه په تاسیس کې قوي رول لوبولئ وو.(پورتنۍ انځور)

(محصلان چې د بنتهام د خوښی د پرنسیب له مخې عمل کوي، هر څو کاله د هغه مومیایي شوئ سر " ازادوي")[1]




جان ستیورت مل

[1] د انځور په پورتنۍ برخه کی د بنتهام جوړه سوی څیره ده اوهغه وخت جوړه سوه څی د مومیائی کیدو په وخت کی د کیمیاوی موادو په پکارولو کی یی ریښتنی سر چی په کتنی انځر کی ښودل سوی دی ،وسوځید . س.ه.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com